با گذشت چندین دهه از شروع فعالیت‌های بانک و بانکداری در جهان، وظایف بانک‌ها بسیار بیشتر و پیچیده‌تر از اوایل شکل‌گیری نظام بانکی شده است، زیرا در ابتدا بانک‌ها مکان امن برای نگهداری وجوه مردم بوده است و در طی زمان با شروع و ارائه تسهیلات به مشتریان، وظایف بانکی پیچیده‌تر شده و امروز با افزایش روش‌های تأمین مالی و ایجاد مشتقات مالی وظایف بانک‌ها در قبال اقتصاد به کُلی دگرگون شده است. به‌خصوص در کشورهای در حال توسعه که اغلب شیوه‌های تأمین مالی پیشرفته‌ای همانند بازار اوراق قرضه و یا بازار بورس پیشرفته‌ای ندارند، نقش بانک‌ها در اقتصاد به شکلی پر رنگ خود نمایی می‌کند. اهمیتِ توجه به بانک‌ها بیشتر به دلیل ارتباط تنگاتنگی است که با شرایط اقتصادی دارند. از این جهت، عملکرد غلط بانک‌ها قادر به ایجاد بحران‌های مالی در جهان بوده است و از طرف دیگر رخ داد بحران مالی در دنیا توانسته است منجر به ورشکستگی بسیاری از بانک‌های بزرگ دنیا شود. در مجموع، این دو اثر به شکلی هم افزا باعث دامن زدن به وسعت بحران‌های مالی خواهد شد. از طرف دیگر به دلیل گسترش سطح تجارت بین‌الملل و افزایش درجهٔ بازبودن اقتصاد کشورها با ایجاد بحران در یک کشور سرریزهایی آن به سایر کشورها نیز سرایت خواهد کرد. لذا باید این پیش‌بینی‌ها از قبل صورت پذیرفته باشد تا بهتر بتوان در شرایط بحران تصمیم‌گیری کرد. همچنین عرصه اقتصادی کشورها نباید عرصه‌ای برای انجام آزمون و خطا قرار گیرد، لذا از این منظر ضروری است که تجربیات سایر کشورها در حوزه‌ای مقاومت‌سازی نظام بانکداری استفاده کرد. همچنین لازم است با توجه به تغییرات ساختاری که اقتصاد کشور ما با اقتصادهایی که اغلب از الگوی سرمایه‌داری پیروی می‌کنند، بایست با تجربیات این نوع کشورها تعدیل شود تا بتوان الگویی موفق برای مقاوم‌سازی نظام بانکی کشور قرار گیرند.

**سهم صنعت بانکداری در اقتصاد بین‌الملل**

از سوی دیگر، با نگاه اجمالی به سهم صنعت بانکداری در اقتصاد جهان، می‌توان به این مهم پی بُرد که خدمات بانکداری در نظام اقتصاد بین‌الملل جایگاه رفیع و برجسته‌ای دارد. در سال ۲۰۱۸ صنعت بانکداری در جهان ۱.۳ تریلیون دالر سودآوری خالص داشته است. ۳۰ بانک بزرگ جهان در سال ۲۰۱۹ به ارزش معادل ۳.۵ تریلیون دالر داشته‌اند که در این میان، ۳٦ درصد این بانک‌ها در امریکا مستقر هستند. در بین کشورهای جهان، سنگاپور بیشترین وابستگی را به‌صنعت بانکداری دارد؛ به گونه‌ای که ۱۳.۱ درصد اقتصاد این کشور را بانکداری تشکیل می‌دهد. این رقم برای چین ٦.٦ درصد، امریکا ٥.٤ درصد و کانادا ٦.٥ درصد است. در میان دیگر کشورهای جهان، صنعت بانکداری ٦.۸ درصد اقتصاد انگلستان، ٤ درصد اقتصاد فرانسه، ٦.٦ درصد اقتصاد سویس، ۳.۸ درصد اقتصاد آلمان، ٤.۳ درصد اقتصاد سوئد، ۷.۱ درصد اقتصاد استرالیا و ٥.۱ درصد اقتصاد روسیه را تشکیل می‌دهد. در بین کشورهای نوظهور نیز ۲.٥ درصد اقتصاد هند، ۲.٤ درصد اقتصاد عربستان، چهار درصد اقتصاد امارات، ٤.٥ درصد اقتصاد ترکیه و ۷.٥ درصد اقتصاد افریقای جنوبی مبتنی بر صنعت بانکداری است.

»

**بانکداری تخصصی**

وجود فضای گسترده کسب و کار و لزوم توسعه تخصصی، این فضا می طلبد که بانک‌ها به‌صورت تخصصی در زمینه های رونق بازار کسب‌وکار و اقتصاد جامعه فعالیت نمایند. عملکرد بانک‌های تخصصی در نظام بانکی افغانستان زمانی به وضع مطلوب نزدیک می شود که در کنار تمام فعالیت‌های عادی بانکی، بانکداری تخصصی نیز وجود داشته باشد. بانکداری تخصصی می‌تواند به دو صورت عملی شود: یک؛ بانک‌های تجارتی شعبه‌های تخصصی داشته باشند که تنها در یک بخش خاص مثل مسکن و شهرسازی فعالیت کند. دوم؛ بانک‌هایی تأسیس شود که تنها در بخش‌های خاص اقتصادی فعالیت کنند؛ مثل بانک زراعت، بانک مسکن، بانک صنعت. با وجود تعدد بانک‌ها هنوز جامعه اقتصادی افغانستان بازارهای مالی سازمان‌یافته جدی ندارد که بتواند منابع مالی بخش های مختلف اقتصادی را تأمین نمایید. این مهم با تخصصی کردن صنعت بانکداری درکشور تحقق پذیر می‌شود.

**نتیجه‌گیری**

خدمات بانکداری در افغانستان طوری که تذکر داده شد، رشد مطلوبی داشته است. از مرکز تا ولایات نمایندگی بانک‌ها در حال عرضهٔ خدمات هستند. کیفیت این خدمات با اهتمام و تلاش‌های نظارتی بانک مرکزی روز به‌روز در حال افزایش است. هر بانک خصوصی که تخطی در ارائه خدمات بانکی نماید، جواز فعالیت آن از طرف بانک مرکزی لغو خواهد شد، همان‌طور که شاهد لغو شدن جواز فعالیت برخی از بانک‌ها بودیم.

بانکداری و فراگیر شدن نظام مالی در کشور، بدون شک موجب رشد و توسعه اقتصادی می‌شود. وقتی که واسطه‌های مالی که بانک‌ها می باشند؛ تسهیلات لازم را ارائه بدارند، بخش‌های مختلف اقتصادی فعال می‌شود و زارعین و صنعت‌کاران با دسترسی به بازارهای مالی شفاف و قابل اعتماد، فعالیت‌های اقتصادی خود را افزایش می‌دهند. این‌جاست که هم رشد اقتصادی رخ می‌دهد و هم بیکاری کاهش پیدا می‌کند. هر قدر گراف بیکاری سیر نزولی داشته باشد، به‌همان میزان جامعه به سمتِ رفاه و ثبات اقتصادی نزدیک می‌شود.

مسئله مهم که بایست جدی گرفته شود، بحث تخصصی کردن بانک هاست. فعالیت‌های پراکنده بانک‌ها و سرمایه‌گذاری های غیر برنامه‌ریزی شده می توانند مؤثریت کمتری روی رشد اقتصاد داشته باشد. افغانستان به عنوان یک کشور زراعتی و دارایی صنایع کوچک و متوسط، نیازمند است که روی این شاخص‌ها، بانک ها فعالیت تخصصی محور داشته باشند. اگر بانک های زراعتی، صنعتی، مسکن و تجاری قوی و فعال داشته باشیم، رشد اقتصادی بیشتر و ثبات اقتصادی فراوان تری خواهیم داشت. همچنان گسترش فعالیت‌های اقتصادی باعث کاهش واردات و افزایش صادرات خواهد شد، این در واقع همان چیزی است که همه کشورهای در حال توسعه دنبال آن هستند.

**منابع:**


1. غفاری، مهدی "بانکداری داخلی کاربردی" ص ۱۲۵، انتشارات تاک ۱۳۸۹.
2. فصلنامه تحقیقات پولی – بانکی " رابطه رشد اقتصادی و بانکداری"، شماره ۳۵ بهار ۱۳۹۷.
3. http://www.dailyafghanistan
4. http://ensani.ir/fa/article
5. https://tejaratnews.com/

# د یوې ښې راتلونکې لپاره د پانګې اچونې لارې چارې

که غواړئ چې زیات عاید ولرئ، په خپل ځان پانګه اچونه وکړئ. دا چاره د عوایدو په زیاتوالي نېغ په نېغه اغېزه کوي. هر څه له خپله ځانه شروع کېږي، د غربي نړۍ یو لوی لیکوال بریان تریسي وایي: ''د دې لپاره چې زیات عاید ولرئ، اړتیا ده چې زیاته پوهه هم ولرئ''.

رښتیا هم همداسې ده، که په خپل ګاونډ کې فکر وکړئ هغه کسان چې زیاته پوهه ( لوړې زده‌کړې) لري د هغو کسانو په پرتله چې د زده‌کړو کچه یې ټیټه وي، ډېر عاید لري او یا یې هم د ځان لپاره د عوایدو بېلابېلې لارې برابرې کړې دي.

رابرت ګرین په خپل کتاب ( تسلط) کې وایي: ″ښه راتلونکې د هغو کسانو ده چې ډېر مهارتونه لري او له هغې څخه په نوښتګره توګه ګټه پورته کوي″. که مو فکر کړی وي هغه کسان چې زیات مهارتونه یې زده دي، هېڅ وخت نه بېکاره کېږي. دېته په کتلو سره ویلای شو چې په خپلې پوهې پانګه اچونه یو کس له ښې راتلونکې څخه برخمن کوي او د بېکارۍ له بدمرغۍ یې ژغوري.

ټي‌هار واکر په خپل مشهور کتاب ( اسرار ذهن ثروتمند) کې لیکي: ″بریا د هغه مهارت او پوهې زېږنده ده چې کولای شو زده یې کړو″.

د ټي‌هار موخه دا ده چې وایي، که غواړې چې فوتبالیست شې، کولای شې هغه زده کړې. که غواړې چې د پیانو یو ښه غږونکی شې، کولای شې هغه زده‌کړې او بلاخره که غواړې چې شتمن او میلیونر شې، کولای شې لارې چارې یې زده‌کړې. یعنې دا چې شتمن کېدل هم زده‌کړو او په ځان پانګې اچونې ته اړتیا لري.

په ژوند کې ډېرئ کسان دا آرزو لري چې شتمن شي او ډېر عاید ترلاسه کړي، د دې لپاره چې تاسو هم دې هیلې ته ورسېږئ، نو اړینه ده چې لاندې لارې چارې وکاروئ.

**مطالعه وکړئ:** ډېرئ وخت میلیونران او لوی سوداګر د خپل بریالیتوب راز د کتابونو او مقالو لوستنه او له هغې څخه الهام اخیستنه بولي، نو که غواړئ چې په خپل ژوند کې بریالي شئ او د پخوا په پرتله زیات عاید ولرئ د اړوندو برخو کتابونه ولولئ او د یادو کتابونو الهام واخلئ او د پوهې کچه مو لوړه کړئ.

یا په بله اصطلاح کتابونه مو هغو ځایونو ته بیایي چې تاسو هېڅ وخت نه دي لیدلي او داسې انګېزې درکوي چې هېڅکله مو یې په اړه فکر نه دی کړی.

که غواړئ چې شتمن شئ، نو په همدې اونۍ کې پر خپلې پوهې پانګه اچونه شروع کړئ. یو کتاب واخلئ ویې لولئ او د خپلې روښانه راتلونکې لپاره ترې ګټه پورته کړئ.

**هېڅکله له زده‌کړو لاس مه اخلئ:** د نړۍ ټول ادیان د علم او پوهې پر زده‌کړو ټینګار کوي، خو زمونږ دین تر نورو ټولو بیا د علم او پوهې پر زده‌کړې ډېر ټینګار کړی دی. د خوږ پیغمبر حضرت محمد ( ص) یو حدیث دی چې وایي: ″له زانګو تر لحده د علم زده‌کړه وکړئ″. دا یو ښه مصداق دی چې اسلام د علم زده‌کړو په اړه ویراندې کړی دی.

که غواړئ چې شتمن شئ او ډېر عاید ولرئ په کار ده چې د علم او پوهې د زده‌کړو په تر لاسه کولو کې هېڅ وخت لټي و نه کړئ.

**لګښتونه مو کنټرول او سپما رامنځته کړئ:** پور ستاسو لپاره خوشحالي نه شي راوستلای، تر هغه چې ستاسو ټول پورونه خلاص شوي نه دي.

په یاد ولرئ چې له پورونو د ځان خلاصول ستاسو د مالي مدیریت لومړنی پړاو دی، که مو پورونه په وخت سره ادا کړل تاسو به ښه خوب وکړئ، آرام ژوند به ولرئ او تر لږ فشار

»

لاندې به ژوند وکړئ.

مه هېروئ چې په بانکونو کې د نغدو پیسو ساتنه او په دې برخه کې سپما ستاسو خوبونه رښتیا کوي. پیسې لرل او په لګښتونو کې سپما تاسو ته د دې وړتیا درکوي چې د خپلې خوښې دنده ولرئ او په بېړنیو حالاتو کې بل ته اړ پاتې نه شئ.

**د راتلونکې لپاره پانګه‌اچونه وکړئ:** ډېرئ کسان فکر کوي چې په ژوند کې د پانګې اچونې لپاره تر ټولو غوره وخت تر تقاعد وروسته دی، خو په اصل کې داسې نه ده.

همدا نن هوډ وکړئ چې د خپلې شته پانګې په وسیله که هغه کمه ده یا زیاته پانګه اچونه پیل کړئ او د خپلې سوداګرۍ یا کار او بار د بریالیتوب په اړه فکر وکړئ.

په یاد ولرئ که همدا نن مو د خپلې راتلونکې لپاره په پانګې اچونې فکر وکړ، نو د یوې ښې راتلونکې لپاره مو شېبې و شمارئ.

**سفرونه وکړئ:** که څه هم ډېرئ کسان فکر کوي چې سفر او تفریح کول د پیسو بې ځایه لګښت دی، خو په اصل کې داسې نه ده که غواړئ چې له ژوند خوند واخلئ او شتمن شئ سفرونه وکړئ نوي ځایونه وګورئ له نویو کسانو سره ووینئ او نور ...

دا چاره تاسو ته د خپلې سوداګرۍ او نورو چارو په اړه نوي الهامونه درکوي.

باور وکړئ چې ډېرئ سوداګر د سفرونو پر مهال له داسې پدیدو سره مخ شوي چې له همغې نقطې یې سوداګرۍ پیل کړې دي او اوس د نړۍ لوی پانګه‌وال دي.

**د خپل کسب او کار په اړه مشاور وټاکئ:** د دې لپاره چې د خپل کسب او کار چارې مو په بریالیتوب سره تر سره کړئ، د ځان لپاره یو مشاور وټاکئ، څو وکولای شئ د چارو د غوره تر سره کولو په اړه غوره پرېکړې وکړای شئ.

د کسب او کار د پرمختګ لپاره قرباني ضرور ده، تاسو ټوله ګټه د ځان لپاره مه اخلئ، بلکې یوه برخه یې د خپل کار او کسب د پرمختیا لپاره هم ولګوئ.

تاسو کولای شئ په اونۍ کې یوه ورځ یو مشاور په ډېر کم مزد سره د خپلو چارو د پرمختګ په اړه د مشورو د شریکولو لپاره استخدام کړئ.

**ځان مو بیمه کړئ:** ډېرئ کسان زړه نه ښه کوي چې د بیمې مرکزونو ته هره میاشت یا هر کال پیسې ورکړي، دوی داسې فکر کوي چې دا پیسې یې بېځایه لګښت دی او هېڅ ګټه نه ورته رسوي، خو پام مو وي چې دا پیسې هېڅکله بې ځایه مه بولئ.

ژوند ټول له خوږو او ترخو پېښو ډک دی، د دې لپاره چې په ډاډه زړه سره مو سوداګري مخته لاړه شي په کار ده چې پر ځان سربېره مو سوداګریز شرکت هم بیمه کړئ.

دا چاره به هله ډېره په درد ولګېږي، کله چې ستاسو سوداګري له کومې بدې پېښې سره مخ شي او د اوسنیو هغو سلو افغانیو ګټه به هله وګورئ چې د کومې بدې پېښې په مقابل کې لویه مرسته ترلاسه کړئ.

**د عوایدو بېلابېلې لارې پیدا کړئ:** د خپلو عوایدو لپاره یوازې په یوه لار بسنه مه کوئ، بلکې د دې چارې د پرمخ وړلو لپاره بېلابېلې لارې ولټوئ، معنی دا چې یوازې یوه دنده بسنه نه کوي.

د شتمن کېدو لپاره د عوایدو بېلابېلې لارې تاسو ته د دې زمینه برابروي چې په ژوند کې پرمختګ وکړئ او نورو کسانو ته له اړتیا خلاص شئ.

**خپلې سرې کرښې مو مشخصې کړئ:** ټاکلي هدفونه ولرئ او دې موخو ته د رسېدو لپاره سرې کرښې وټاکئ. دا هوډ ولرئ چې هېڅکله به له دې سرو کرښو بل لور ته نه اوړئ. سرې کرښې دا معنی چې تاسو ته ستاسې موخې تر هرڅه لومړیتوب لري او دې موخو ته د رسېدو لپاره د ګړندي ګامونه اخلئ. •

سرچینې:

ژباړه او زیاتونه: حسیب الله نوري


1 - How to Invest in Yourself: 10 Life-Changing Ways to See Big Returns
Carrie Smith Nicholson/ Feb/ 05/2019
https://www.carefulcents.com/invest-in-yourself/

2 – Different ways to invest in yourself
https://modireman.ir/individual-development/روی-خودتان-سرمایه-گذاری-کنید/

# له بېوزلۍ څخه څنګه ځان وژغورو؟

بېوزلي د هغو بدو پدیدو څخه ده چې د نړۍ ډېری وګړو په خپل ژوند کې یو یا څو ځله تجربه کړې ده او دا مهال هم داسې کسان شته چې دا چاره تجربه کوي.

دا چې څنګه کولای شو له دې ناوړه پدیدې څخه ځانونه وژغورو او په ژوند کې مو له بېوزلۍ سره مخ نه شو، نو اړینه ده چې د مخنیوي لاندې لارې چارې یې تر سره کړو:

**مالي مدیریت زده کړئ:** د دې لپاره چې وکولای شئ له خپلو پیسو څخه مو په ښه ډول ګټه پورته کړئ او بې ځایه لګښت و نه کړئ لازمه ده چې د مالي مدیریت اړوند کتابونه ولولئ.

په یاد ولرئ چې په بې ځایه څېزونو د پیسو لګول مو د راتلونکې لپاره د سپما برخه زیانمنوي او تاسو د مفلسۍ لارې ته برابروي.

**خپل میاشتني لګښتونه مو اټکل کړئ:** د هرې میاشتې په سر کې مو ټول لګښتونه اټکل کړئ او دا معلوم کړئ چې په روانه میاشت کې څومره لګښت ته اړتیا لرئ. دا چاره ستاسو سره د دې مرسته کوي چې د روانې میاشتې تر پایه مو د خپلو مالي چارو مدیریت په ښه ډول سره تر سره کړئ.

**یوازې اړین توکي وپېرئ:** له اړتیا پرته څېزونه هېڅکله مه پېرئ. د نړۍ په کچه پېژندل شوی اقتصاد پوه وارن بافت وایي:

"که نن مو هغه څېزونه و پېرودل چې اړتیا ورته نه لرئ، ډېر ژر به هغه څېزونه هم و پلورئ چې اړتیا ورته لرئ".

**اړتیاوې او غوښتنې مو معلومې کړئ:** په ژوند کې د اړتیاوو او غوښتنو پېژندل تر ټولو اړینه چاره ده. که مو دا چاره تر سره کړه، کولای شئ چې په دې وسیله خپلې پیسې په ډېره ښه توګه مدیریت کړئ.

**هغه توکي چې اخلئ نومونه یې له ځان سره نوملړ کړئ:** وړاندې له دې چې له کوره تر بازاره لاړ شئ، په کور کې مو د ټولو هغو توکو نوملړ برابر کړئ چې غواړئ ویې پېرئ. که مو دا چاره تر سره کړه ډاډمن اوسئ چې پیسې به مو په ښه ډول مدیریت کړئ او هېڅ داسې کوم اضافي توکی به وا نه‌خلئ چې هغې ته اړتیا و نه لرئ او هغه تاسو له بېوزلۍ سره مخ کړي.

**له ستونزو سره مقابله وکړئ:** ستونزې انسان کمزوری کوي، مه پرېږدی چې دا چاره تاسو هم کمزورئ کړي، ناهیلي او اندېښنې نه یوازې دا چې ستونزې نه حلوي، بلکې تاسو له نورو زیاتو ستونزو سره هم لاس او ګرېوان کوي.

د دې لپاره چې پردغو ستونزو کې بریالي پاتې شئ په کار ده چې له هغو کسانو سره سلا مشوره وکړئ، چې په ژوند کې بریالي دي او ژوند یې ښه پر مخ روان دی.

**پور مه اخلئ:** د ورځنیو لګښتونو لپاره مو پور مه اخلئ. څېړنو ښودلې ده چې د پور پیسې د هغو پیسو په پرتله چې په زیار سره مو ګټلې دي بې زړه سوي لګول کېږي. نو د همدې لپاره له چا پور مه اخلئ او د پور اخیستلو پر ځای په کار کولو فکر وکړئ، ترڅو له اقتصادي ستونزو څخه خلاص شئ.

**روغتیا مو تر هرڅه غوره وبولئ:** د کار و بار د پرمختګ لپاره روغتیا تر ټولو اړینه ده. ځینې کسان به مو لیدلي وي چې په کار و بار کې دومره بوخت وي چې آن خپل ځان او روغتیا ترینه هېره شوې وي. همدا لامل شوی چې ځینې کسان په بېلابېلو ناروغیو اخته کېږي او دا چاره دېته لاره هواروي چې ګټلې پیسې یې پر خپلې روغتیا ولګوي او له اقتصادي ستونزو سره یې مخ کړي.

**سرچینې:**


1 - A way to reduce poverty that's so simple, it just might work/ World Economic Forum https://www.weforum.org/agenda/2017/03/a-way-to-reduce-poverty-that-s-so-simple-it-just-might-work/

2 - https://yaraan.com/broke-life/


له مفلسۍ د ځان ژغورلو ۹ لارې چارې/ **احمد فرهاد توتاخیل**





# نیروی کار با گذشت زمان دیجیتلی می شود

مؤسسات و سازمانهای منطقه و جهان تلاش دارند که سیستم های قدیمی و میراثی خود را به سیستم های پیشرفته دیجیتل تغییر دهند، تا در این عرصه بتوانند تحولات زیادی را به میان آورند.
آگاهان امور میگویند که هدف از انتقال نیروی کار به فناوری دیجیتل دیگر گونی تجارت و سیستم سازی میباشد.
قابل یادآوری است که فناوری نیروی کار دیجیتل در چند سال گذشته تحولات زیادی را بجا گذاشته است و با توسعه این امر، در ادارات و سازمانها تحولات زیادی به وجود خواهد آمد.
در طول دهه های اخیر، فناوری نوین با گسترش در بخش کسب و کار و دیجیتل شدن روزافزون، تأثیر قابل توجهی را بر فعالیت های اقتصادی بجا گذاشته است و به طور پیوسته ماهیت پروسه های تولیدی و زندگی روزمره ما را تغییر داده است.
یک سروی مقطعی که در سال ۲۰۱۶ میلادی انجام شده، نشان میدهد که دربرابر ترویج این فناوری بعضی از چالشها نیز موجود میباشد که با رفع آن پیشرفت‌های زیادی را شاهد خواهیم بود.
مشکلات فرهنگی و رفتاری، عدم درک روندهای دیجیتل، کمبود نیروی کاری سیستم‌های دیجیتل، عدم هماهنگی در ساختار سازمانی از جمله چالشهای اند که در برابر انتقال به فناوری نیروی کار دیجیتل قرار دارند.
در عصر حاضر مؤسسات مالی برای پیش برد کارهای خود به این فناوری رو آورده و همواره در تلاش اند تا در بخش مربوطه افراد شایسته را تربیه نموده و به این وسیله در توسعه این خدمات کار نمایند.
تا حال بانک DBS سنگاپور و یک تعداد از بانکهای دیگر نیز در این عرصه پیشتاز اند. امیدواری‌های وجود دارد که با توسعه این روند در بخش مالی و بانکداری پیشرفت‌های چشمگیری به وجود آید.
باید گفت که هدف از این روند آموزش‌دهی، جذب مشتریان و ارائه خدمات پیشرفته و مؤثر میباشد.

منبع:

The Bankers Magazine/ Jan 2020

# د خلیج د سیمي هېوادونه، د مالي خدمتونو د تکنالوژۍ په برخه کې سیالي کوي

د خلیج د سیمي هېوادونه، د مالي خدمتونو د ټکنالوژۍ «Fintech» په برخه کې د یوې ګډې ستراتیژۍ په جوړولو کار کوي چې په دې سره به د خلیج د همکارۍ شورا په غړیو هېوادونو (بحرین، کویټ، عمان، قطر، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو) کې د مالي خدمتونو په برخه کې پراخ پرمختګونه رامنځته شي.

د دې ستراتیژۍ د جوړولو په پروسه کې د کریپټو کرنسۍ، آزادې بانکوالۍ، د مالي خدمتونو په برخه کې د مشورتي ادارو جوړېدل او د مالي خدمتونو د تکنالوژۍ په برخه کې د یو شمېر نورو پرمختللو سیستمونو رامنځته کېدل، شامل دي.

اټکل کېږي چې د مالي خدمتونو د دې تکنالوژۍ په برخه کې به تر ۲۰۲۸ زېږدیز کال پورې ۲ میلیارد ډالر پانګه اچونه وشي او له دې لارې به په راتلونکو لسو کلونو کې یوازې ۱۵۰ میلیون ډالر ګټه تر لاسه شي.

باید وویل شي چې د دې پروژې اصلي موخه په مالي برخه کې د ښو خدمتونو وړاندې کول او د نوښتونو رامنځته کول، ښودل شوي دي.

د دې پروژې مشري د اوس لپاره د متحده عربي اماراتو او بحرین پرغاړه ده، یاد دوه هېوادونه د خلیج د سیمې د همکارۍ شورا مخکښ غړي هېوادونه دي او په دې برخه کې یې مهم رول لوبولی دی.

د یادونې وړ ده چې د خلیج د سیمې د همکارۍ د شورا غړو هېوادونو له ۲۰۱۶ زېږدیز کال را په دېخوا په دې برخه کې خپلې هڅې پیل کړې دي او تر دې دمه یې د مالي خدمتونو په برخه کې زیات پرمختګونه هم کړي دي.

تمه ده چې د دې پروژې په پلي کېدو سره به د خلیج د سیمې پر هېوادونو سربېره د افریقا او جنوبي آسیا یو شمېر هېوادونه او یو شمېر نور نړیوال مارکېټونه هم ګټه پورته کړي.

سرچینه:

The Bankers Magazine/ Jan 2020

## دیدار معاون دوم د افغانستان بانک از بانک مرکزی کمبوج



د افغانستان بانک در راستای تحکیم هرچه بیشتر نظام بانکی و مالی کشور، بهترین دستور العمل ها و شیوه ها مؤثر ملی و بین المللی را استفاده می نماید. این مطلب را محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک حین ملاقات و دیدار با مسئولان بانک کمبوج بیان داشت.

محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک و هیئت همراه در سفر رسمی که به کشور کامبوج داشتند، طی نشست های جداگانه با معاون بانک مرکزی کامبوج و مسئولان بخش های مختلف این بانک دیدار نمودند.

محترم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک و هیئت همراه در این سفر، ضمن تشریک دیدگاه و تجارب د افغانستان بانک در راستای تعیین سیاست ها و ابزار های پولی و استحکام نظام مالی و بانکی، از تشریک دیدگاه ها و تجارب کشور میزبان با د افغانستان بانک، قدر دانی نمودند.

محترم سم سنیسیت معاون بانک مرکزی کمبوج در کنار ستایش از دستاورد های فوق العاده د افغانستان بانک، تجارب خود را در رابطه با مدیریت سرمایه، مدیریت منابع بشری و توسعه بانکی با معاون دوم د افغانستان بانک و هیئت همراه اش شریک ساختند.

## د صرافانو ټولنې له استازو سره د کرونا ویروس د مخنیوي په اړه غونډه



کابل، د ۱۳۹۸ کال د کب ۲۴ مه – د افغانستان بانک مسئولینو د صرافانو د سراسري ټولنې له استازو سره د کرونا یروس څخه د مخنیوي لپاره غونډه جوړه کړه.

په دې غونډه کې چې په همدې اړه د افغانستان بانک د پولي سیاست په لوی آمریت کې جوړه شوې وه د اسعارو په راکړو او ورکړو کې د کرونا ناروغی د ویروس د مخنیوي په اړه هر اړخیزه بحثونه وشول.

په دغه غونډه کې یادونه وشوه چې د کرونا ناروغی له ویروس څخه د مخنیوي په اړه باید د صرافانو او پېرودونکو د پوهاوی لپاره لازمې خبرتیاوې رامنځته شي او په دې اړه دې لازم تدبیرونه ونیول شي.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د صرافانو له لوري د بولی پر بندولو، د صرافیو په بازارونو کې د ګڼې ګوڼې په راکمولو، له عامې روغتیا وزارت سره په همغږۍ د هر ډول پیسو د ضد عفوني کولو، په آنلاین ډول د پیسو د لیلام (آکشن) ترسره کولو او د صرافۍ بازارونو ته د ورتلونکو پېرودونکو او صرافانو روغتیایي چک او کنټرول کولو په اړه خبرې وشوې.

## د افغانستان بانک د شرعی نظارتی بورد غونده



کابل، د ۱۳۹۸ کال د مرغومې ۳۰ مه د اسلامی بانکداری او مالي خدمتونو د عمومي آمریت د شرعي نظارتي بورد غونډه جوړه شوه.

پدی غونډه کې د افغانستان اسلامي بانک د باور کارت محصول او د اعتبار لیک لاښود په اړه هر اړخیز بحثونه ترسره او په دې اړه لازمې پریکړې وشوې.

باید وویل شي چې په دې غونډه کې د اسلامي بانکوالی د پراختیا، تکافل، بیمې او یو شمېر نورو برخو کې د خلکو لپاره د آسانتیاوو په رامنځته کولو هم بحث او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

د یادونې وړ ده چې په دې اړه جوړه شوې غونده کې د افغانستان بانک د شرعي نظارتي بورډ پر رئیس ښاغلي فضل الرحیم بصیرت سربېره د دې بورد غړو او استازو، د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالی او مالي خدمتونو عمومي آمر ښاغلي دکتور محمد یوسف سلیم او د دې آمریت یو شمېر کار کوونکو هم ګډون کړی وو.

## تدویر جلسه معلوماتی در مورد رسیدگی به شکایات مشتریان مؤسسات مالی



کابل، ۱۳ حوت ۱۳۹۸ – اولین جلسه معلوماتی رسیدگی به شکایات مشتریان که مطابق راهبرد ملی توسعه خدمات مالی اخیراً در چارچوب آمریت عمومی توسعه خدمات مالی قرار گرفته است، با اشتراک مسئولین مربوطه مؤسسات مالی افغانستان برگزار گردید.

در ابتدا، طی پریزنتیشنی پیرامون اصول و مفاهیم حمایت از حقوق مشتریان در سکتور مالی بحث گردیده و در زمینه برای اشتراک کنندگان معلومات لازم ارایه گردید.

متعاقباً محترم میرشکیب میر آمر عمومی توسعه خدمات مالی در رابطه به اهمیت حقوق مشتریان و نقش آن در جلب اعتماد مردم به سکتور مالی، بهبود کیفیت خدمات مالی، ارایه مسئولانه خدمات و رسیدگی به موقع به شکایات مشتریان توسط موسسات مالی صحبت نموده و از اشتراک کنندگان خواست تا موارد مربوط به حقوق مشتریان را به صورت جدی در موسسات مالی مربوطه خویش رعایت نمایند.

# د مالي خدمتونو د پراختیا

## د ملي ستراتیژۍ د پلي کېدو دویمه غونډه



کابل، ۱۳۹۸ کال د کب ۱۴ مه – د افغانستان بانک د مالي خدمتونو د پراختیا د لوی آمریت په مشرۍ د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د څلورګوني ډلې دویمه غونډه جوړه شوه.

په یاده غونډه کې اړوندو ادارو ته د سپارل شویو دندو د پلي کېدو، په دې برخه کې د همغږۍ د رامنځته کولو او د کاري پلان د څرنګوالي په اړه خبرې اترې وشوې او د یادې موضوع په اړه لازمې پرېکړې ونیول شوې.

باید وویل شي چې د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي ستراتیژۍ لومړۍ غونډه یوه میاشت وړاندې جوړه شوې وه چې په کې د اړوندو ادارو ترمنځ د دندو پر وېش او دغه راز پر یو شمېر نورو موضوعګانو خبرې شوې وې.

د یادونې وړ ده چې د مالي خدمتونو د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د پلي کېدو په دې ډله کې د افغانستان بانک د یو شمېر اړوندو ادارو پر استازو سربېره د مالیې، اقتصاد، کلیو د پراختیا، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو او بانکونو د ټولنې استازي شامل دي.

# له کرونا ویروس څخه د ځان ساتنې په اړه د پوهاوی غونډه

## په کرونا ویروس داخته شوي کس نښې




## د کرونا ویروس د خپرېدو او پرې د اخته کېدو د مخنیوي لپاره باید څه وکړو؟

کابل، ۱۳۹۸ کال د کب ۱۳ مه – د افغانستان بانک د بشري سرچینو لوی آمریت د یاد بانک د کارکوونکو لپاره کرونا ویروس څخه د ځان ساتنې په اړه د پوهاوی غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د افغانستان د بیمې شرکت د روغتیایي ټیم له لوري د کرونا ویروس په اړه معلوماتي پریزینټیشن وړاندې شو او د غونډې ګډونوالو ته له دې ویروس څخه د ځان ساتنې د لارو چارو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل شول.

باید ووېل شي چې دا ویروس په ۱۹۶۰ زیږدیز کال کې د لومړي ځل لپاره کشف شوی دی او په دې وروستیو کې د یاد ویروس نوې بڼې او خپرېدو په نړیواله کچه اندېښنې را پارولې دي.

د دې ویروس لومړی پېښه د چین هېواد په وهان ښار کې ولیدل شوه او ډېر ژر یې د نړۍ یو شمېر نورو هېوادونو ته لاره وکړه.

په افغانستان کې تر دې مهاله د دې ویروس یوازې یوه مثبته پېښه ثبت شوې ده.

پاتې دې نه وي چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د خپلو کارکوونکو لپاره له کرونا او داسې نورو بېلابېلو ساري ناروغیو څخه د ځان ساتنې، ژغورنې او مخنیوي په اړه د پوهاوی غونډې جوړې کړي.

# د نړۍ هغه شرکتونه چې په کلني ډول تر نورو زيات عوايد لري

په دې مقاله کې د هغو نړيوالو شرکتونو په اړه معلومات وړاندې کيږي چې په کلني ډول د نړۍ د نورو شرکتونو په زيات عوايد تر لاسه کوي.

دا چې دا شرکتونه کوم دي؟ کلني عوايد يې څومره دي؟ په کومو هېوادونو کې دي او څومره کارګران لري دلته يې لاندې ولولئ:

۱. والمارټ شرکت: دا د نړۍ تر ټولو هغه لوی شرکت دی چې په کلني ډول د خپلو توکو د پلور له کبله زيات عوايد ترلاسه کوي. دا شرکت د امريکا په متحدو ايالتونو کې دی او په ۱۹۶۲ زېږديز کال کې د سام والتون په نوم د يو کس له لوري رامنځته شو.

په والمارټ شرکت کې دا مهال دوه ميليونه او درې سوه زره کارکوونکي په دندو بوخت دي. دا شرکت د امريکا پر متحدو ايالتونو سربېره د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې هم ۸۵۰۰ څانګې لري او په يادو هېوادونو کې په بېلابېلو نومونو فعاليتونه تر سره کوي.

د دې شرکت کلنی عايد ۴۸۵،۸۷۳ ميليون ډالره کېږي. بايد وويل شي چې ياد شرکت په يادو شويو هېوادونو کې د سوپرمارکيټونو او هايپر مارکيټونو څنځيري لړۍ لري.

۲. سټيټ ګريډ کارپورېشن: دا په نړۍ کې په کلني ډول د زيات عايد د تر لاسه کولو دويم لوی شرکت دی، خو د برېښنايي وسايلو د توليد او په دې برخه کې د اړوندو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د نړۍ لومړی لوی شرکت شمېرل کيږي.

د دې شرکت مرکزي دفتر د چين په پيکينګ کې دی چې په ۲۰۰۲ زېږديز کال کې جوړ شوی دی. په ياد شرکت کې ۹۲۶،۰۶۷ کسانو پر دندو بوخت دي او کلنی عايد يې ۳۱۴،۱۹۹ ميليون ډالرو ته رسېږي. دا شرکت د چين پر هېواد سربېره په ايټاليا، استراليا، فليپين او برازيل هېوادونو کې هم فعاليت لري.

۳. ساينوپيک ګروپ: دا شرکت هم په چين هېواد کې دی. د تيلو، ګازو او نورو نفتي توکو په برخه کې فعاليتونه تر سره کوي.

د دې شرکت کلنی عايد ۲۶۷،۵۱۸ ميليون ډالرو ته رسېږي چې ياد شرکت ته يې د زيات عايد د ترلاسه کولو له کبله په نړيواله کچه دريم لوی مقام ورکړی دی، خو په چين کې په کلني ډول د زيات عايد د ترلاسه کولو له کبله دويم لوی شرکت دی. بايد وويل شي چې په دې شرکت کې ۷۱۳،۲۸۸ کسان پر دندو بوخت دي.

۴. د چين د تيلو ملي شرکت هم په ياد هېواد کې د لويو عايداتي شرکتونو له ډلې شمېرل کيږي. د دې شرکت کلنی عايد ۲۶۲،۵۷۳ ميليون ډالرو ته رسېږي چې ياد شرکت ته يې په نړيواله کچه څلورم ځای ورکړی دی.

دا شرکت په ۱۹۸۸ زېږديز کال کې د چين حکومت په پانګه

اچونه رامنځته شوی دی چې د تیلو او ګازو په برخه کې سوداګري کوي. دا شرکت د چین سربېره په تایلند، کاناډا، پیرو او ایران هېوادونو کې هم فعالیت لري. په دې شرکت کې ۱،۵۱۲،۰۴۸ کسان په دندو بوخت دي او د نړۍ ۳۰ لوی شرکتونه چې د تیلو او ګازو د راسپړنې په برخه کې کار کوي کنټرولوي.

۵. ټویوټا: دا شرکت په کلني ډول د زیاتو عایداتو د ترلاسه کولو له کبله د نړۍ پنځم لوی شرکت دی. دا کمپنۍ د موټرونو د تولید په برخه کې کار کوي او شاوخوا ۳ سوه زره کارکوونکي په کې په دندو بوخت دي.

د ټویوټا کمپنۍ په جاپان هېواد کې ده او د دې هېواد د لویو عایداتي کمپنیو په سر کې ولاړه ده. یادې کمپنۍ تر دې مهاله ۴۰ میلیون بېلابېل ډوله موټرونه تولید کړي دي او کلنی عاید یې ۲۵۴،۲۹۴ میلیون ډالرو ته رسېږي.

۶. فلوکس واګن: دا شرکت په کلني ډول د زیاتو عایداتو د ترلاسه کولو له مخې شپږم لوی شرکت دی. دا شرکت په جرمني هېواد کې دی او کلني عایدات یې ۲۴۰،۲۶۴ میلیون ډالرو ته رسېږي.

دا شرکت په ۱۹۳۷ زېږدیز کال کې د برلین په ښار کې جوړ شو او دا مهال شاوخوا ۶۰۰ زره کسان په کې په دندو بوخت دي.

۷. رویال داچ شل: دا شرکت د هالنډ په هېواد کې دی چې په ۱۹۰۷ زېږدیز کال کې د یاد هېواد په لاهه کې رامنځته شو، دا مهال د نفتو او ګازو د راسپړنې او انرژۍ د تولید په برخه کې کار کوي.

په دې شرکت کې ۸۹ زره کسان په دندو بوخت دي چې په کلني ډول ۲۴۰،۰۳۳ میلیون ډالر عواید ترلاسه کوي. دا د زیات عاید د لرلو له مخې د نړۍ اووم لوی شرکت ګڼل کېږي. رویال داچ شرکت په ورځني ډول ۳.۷ میلیون بشکې تیل تولیدوي او د نړۍ په ۷۰ هېوادونو کې فعالیت لري.

۸ – د برکشایر هاتوې شرکت: دا شرکت په امریکا کې دی. کلنی عاید یې ۲۲۳،۶۰۴ میلیون ډالرو ته رسېږي او شاوخوا ۳۶۷،۷۰۰ کسان په کې پر دندو بوخت دي. دا شرکت د نړۍ په نورو لویو شرکتونو کې هم ونډه لري او یو شمېر نورو شرکتونو مالك هم دی چې په نړیواله کچه د زیات عاید د ترلاسه کولو له کبله یې ۸ لوی مقام خپل کړی دی.

۹. د اپل شرکت: دا شرکت په کلني ډول د زیاتو عوایدو د ترلاسه کولو له مخې د نړۍ نهم لوی شرکت دی. دا شرکت په کلني ډول ۲۱۵،۶۳۹ میلیون ډالر عواید ترلاسه کوي. په دې شرکت کې ۱۱۶،۰۰۰ کسان په دندو بوخت دي چې د نړۍ د ۲۲ هېوادونو په ۵۰۰ څانګو کې فعالیتونه تر سره کوي.

دا شرکت په ۱۹۷۶ زېږدیز کال کې رامنځته شوی دی چې د معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې کار کوي. د دې شرکت عمده تولیدي وسایل آیپډ، آیمک او آیفون دي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره یې پېرودونکي مخ په زیاتېدو دي.

۱۰. اکسان موبېل: د زیات عاید د ترلاسه کولو له مخې د نړۍ لسم لوی شرکت دی. دا شرکت د امریکا په متحدو ایالاتونو کې دی چې د نفتي موادو د تولیدولو او راسپړلو په برخه کې کار کوي. په دې شرکت کې ۷۲۷،۰۰ کسان پر دندو بوخت دي او په کلني ډول ۲۰۵،۰۰۴ میلیون ډالر عواید ترلاسه کوي.

ژباړه: حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:


1. RICHEST COMPANIES IN THE WORLD 2019 TOP 10 REVENUE
2. https://naijaquest.com/richest-companies-in-the-world/
3. https://www.bourseiness.com/38745/10-great-companies

# عوامل عمدهٔ کاهش و افزایش تقاضا برای کالاها




تقاضا عبارت از تمایل خریداران به خرید کالاهای مورد نیاز آنها می باشد. طوری که تقاضا کننده پول داشته و توانایی یا قدرت خرید کالا را داشته باشد و به همین ترتیب تقاضا کننده یا خریداران می توانند به خرید کالا ها در بدل قیمت های متفاوت بپردازند. این برنامه در علم اقتصاد عموماً بصورت ریاضی نشان داده شده و تقاضای یک خریدار را برای یک کالای مشخص بررسی می نماید.

مفهوم تقاضا یکی از مهمترین سنگ بناهای تحلیل اقتصادی است. در یک زمینه اقتصادی، تقاضا نه تنها به عنوان مقادیر تقاضا شده، بلکه به عنوان منحنی تقاضا نیز در نظر گرفته می‌شود. منحنی تقاضا مقدار کالا یا خدمتی است که در هر قیمت کالای مورد تقاضا واقع می‌شود.

قانون تقاضا مشهورترین قانون در اقتصاد است که اغلب اقتصاددانان نیز بیشترین اطمینان را نسبت به آن دارند.

بناءً می‌توان ادعا کرد که تقریباً تمام عمارت اقتصاد، بر این قانون بنا شده است.

قانون تقاضا بیانگر اینست، زمانی که قیمت یک کالا افزایش می‌یابد، تقاضا برای آن کاهش یافته و زمانی که قیمت یک کالا کاهش می‌یابد، تقاضا به آن افزایش پیدا می کند.

اقتصاد دانان به این متیقن هستند که قانون تقاضا همیشه برقرار بوده و حتی در این مورد غیر اقتصاد دانان نیز شک ندارند که قانون تقاضا همیشه برقرار است و در واقع با شیوه تفکر هر انسان گره خورده است.

دلیل اصلی این که اقتصاددانان شک »

ندارند که قانون تقاضا همواره برقرار است، این است که قانون متذکره حتی برای غیراقتصاددانان نیز کاملاً قابل فهم است. در واقع قانون تقاضا با شیوه تفکر و زبان ما در مورد امور روزمره تنیده شده است.

بطور مثال، وقتی که می گوئیم کالایی لیلام شده است، هدف ما از آن این نیست که فروشنده قیمت آنرا افزایش داده است، بلکه ما می دانیم که فروشنده بخاطر کاهش تقاضا برای کالایش قیمت آنرا کاهش داده، این امر خود بخود بیان کننده همان قانون تقاضا است. گرچه تا به حال اقتصاددانان به استثنا های این قانون برخورد نکرده اند، اما بسیاری از فعالان بازار و غیر اقتصاددانان با بعضی استثناهای در این مورد برخورد داشته اند. آنها در این مورد بطور نمونه از آب یادآوری می نمایند. آنها می گویند، زمانی که قیمت آب افزایش می یابد، مقدار مورد تقاضای آب کاهش نمی یابد.

در حقیقت قانون تقاضا به این معنا نیست که در صورتی که قیمت یک کالا افزایش یابد، تقاضای آن کالا نیز باید به همان نسبت کاهش یابد. اقتصاد دانان کاملاً این حقیقت را پذیرفته اند که تقاضای کالای که قیمت اش بالا رفته کمی کاهش یابد تا قانون تقاضا بر قرار بماند، اقتصاد دانان در مورد یاد شده، این واقعیت را کاملاً پذیرفته اند و معیاری را برای تغییر تقاضا در نتیجه تغییر قیمت را کشش تقاضا تعریف کرده اند.

از طرف دیگر بعضی اقتصاد دانان به این نظر اند که تنها قیمت نیست که مقدار تقاضا را تحت تأثیر قرار می دهد، بلکه درآمد نیز بر تقاضا تأثیر گذار است. همان طوریکه درآمد واقعی افزایش می یابد، مردم از قسمت بیشتر از کالا ها خرید می نمایند.

در قانون تقاضا همگام با افزایش سطح قیمت ها مصرف کننده از میزان تقاضای خود می کاهد و در این مورد رابطه معکوس بین قیمت و مقدار تقاضا به وجود می آید.

عوامل عمده تأثیر گذار بر تقاضا عبارت از قیمت، تعداد مصرف کننده گان در بازار، درآمد پولی خریداران، سلیقهٔ مصرف کننده گان و ...، می باشند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- Demand Definition - Investopedia ، Microeconomics ، Economics ، https:// www.investopedia.com

Demand is an ، ۴ سرطان ۱۳۹۸ economic principle that describes consumer willingness to pay a price for a good or service.

۲- أحكام البيع والشراء - موضوع أحكام شرعية ، https://mawdoo3.com

۱۳۹۷ جدی ۱۹ ، أحكام البيع والشراء . تعريف البيع والشراء . آداب البيع والشراء . المراجع أحكام البيع والشراء يشترط فى البيع أن يكون فيما يعدّ مالاً فى الشرع، وأن...

۳- افزایش تقاضا برای خرید دلار با نگرانی از شیوع ویروس جدید ۳۲۲۶۱۳-اف... ،بخش-اقتصاد-در-رسانه-ها-۶۷ ، https:// www.eghtesadnews.com



# نظریات موافق و مخالف در مورد رشد جمعیت

در مجموع دو نوع نگرش که عبارت از نگرش مثبت و نگرش منفی می باشد، در مورد رشد جمعیت وجود دارد. در این مورد توماس مالتوس نظریه منفی دارد، او می گوید رشد جمعیت از طریق قانون باز دهی، نزولی بوده و رشد اقتصادی را مختل می سازد.

توماس مالتوس در مورد می گوید در صورت عدم پیشرفت علمی و فنی در بخش های مختلف زراعت و رشد جمعیت، بخاطر فزونی نرخ رشد جمعیت بر نرخ تمرکز سرمایه سود کاهش پیدا می کند و در این صورت اقتصاد در وضعیت عدم امکان افزایش تولید قرار می گیرد. او به این باور است که جهت دستیابی به رشد اقتصادی باید رشد جمعیت را کنترول و به تأخیر انداخت.

در واقع آنهایی که معتقد به کنترول جمعیت می باشند، می گویند: جمعیتی که یک متغیر طبیعی است باید با متغییر های غیر طبیعی هماهنگ گردد، در حالیکه آمار تجربه حکم می کند که اقتصاد باید با جمعیت هماهنگ گردد تا سیاست های مناسب اقتصادی تحقق یابد.

در مقابل، نظریه فلپس وجود دارد که بر اساس نظریه او رشد اقتصادی تابع مستقیمی از نرخ رشد جمعیت است. به نظر او بسیاری از اثرات مثبت افزایش جمعیت مانند افزایش تقاضای مؤثر، کاهش دستمزد و افزایش احتمال ظهور افراد نخبه مربوط به افزایش تعداد افراد خانوار است.

در این سیستم، افزایش جمعیت از دو طریق زمینه ساز رشد اقتصادی می گردد. یکی از طریق افزایش عرضه نیروی کار ساده و دیگر از طریق افزایش نیروی کار متخصص در قالب سرمایه انسانی و ...، به میان می آید.

در مقابل عدهٔ به این نظر اند که اگر به این موضوع بطور عمیق بنگریم در می یابیم که بسیاری از اثرات مثبت رشد جمعیت مانند افزایش تقاضای مؤثر، کاهش دستمزد، افزایش ظهور افراد نخبه مربوط به افزایش تعداد افراد خانوار می باشد. در این مورد اگر به پائین آوردن سن ازدواج اکتفاء کنیم، سیر افزایش و رشد جمعیت بسیار کند شده و در آیندهٔ نزدیک متوقف و حتی منفی خواهد شد.

در مقابل، طرفداران رشد جمعیت به این باور اند که افزایش جمعیت نه تنها عامل منفی برای رشد اقتصادی و رفاه جامعه محسوب نمی گردد، بلکه خود یگانه عاملی برای تقویت رشد و افزایش رفاه و درآمد جامعه می گردد.

از نظر آنان در یک گروه بزرگتر جمعیت، احتمال خوبی های بیشتر وجود دارد، زیرا در میان جمعیت بزرگتر گروه های محققان و دانشمندان بیشتر شکل می گیرد. در نتیجه ظرفیت و توان جامعه در ابداع انواع علوم مطابق روز با گذشته زمان بالارفته و از این طریق درآمد سرانه نیز افزایش می یابد. جمعیت بیشتر بطور اوسط دارای افراد نخبه شده و توانایی خلق ایدهٔ بیشتر و عالی تر را نیز دارند.

در نتیجه، افزایش و رشد جمعیت منجر به بهبود تکنالوژی شده و عامل مهمی برای رشد اقتصادی میگردد. افزایش جمعیت در سنین کار موجب بهتر شدن افزایش عرضهٔ نیروی کار گردیده و با افزایش آن رقابت در بازار کار، نرخ دستمزد ها کاهش می یابد و به تبع آن سطح اشتغال و تولید افزایش یافته و در نهایت سبب افزایش رشد اقتصادی می شود.

با افزایش جمعیت، تمایل به افزایش سرمایه انسانی، پس انداز، کار آیی نیروی کار و سرمایه گذاری از سوی افراد جامعه نیز بیشتر می گردد. از طرف دیگر رشد جمعیت اثر بسیار مهم و مناسبی بر روی تقاضا برای سرمایه گذاری داشته و بهبود استندرد زندگی نیز متناسب با رشد جمعیت افزایش می یابد.

از طرف دیگر بر اساس رشد جمعیت، انتظارات تجاری بر اساس موقعیت آیندهٔ تقاضا شکل گرفته و روحیهٔ خوشبینی در اقتصاد حاکم می گردد. در چنین حالت به علت اینکه معمولاً تقاضا افزایش یافته و کمبود تقاضا همزمان از بین می رود.

اما این موضوع در دوران کاهش جمعیت معکوس می باشد، یعنی تقاضا کمتر از چیزی است که انتظار می رود. هر چند این وضعیت در دراز مدت از بین میرود، ولی ممکن نتایج اولیهٔ ناشی از تغییر جمعیت از افزایش به کاهش بسیار فاجعه آمیز باشد. در چنین حالت باید گفت که تقاضای سرمایه به تعداد مصرف کننده گان، یعنی حد اوسط مصرف و حد اوسط دورهٔ تولید ارتباط دارد.

افزایش ورشد جمعیت موجب افزایش بیشتر در تقاضای سرمایه شده، در صورت وضعیت مطلوب در اقتصاد، حرکت درآمد از قشر ثروتمند به دست کم درآمد تعلق می گیرد که این حالت سبب ایجاد شکوفایی در اقتصاد می گردد. در اقتصاد دانش محور مُدرن، رشد متوازن جمعیت بیشتر از اینکه به درآمد سرانهٔ و رفاه عمومی صدمه بزند، به آن کمک می کند. بطور خلاصه می توان گفت که جمعیت یک منبع فنا نا پذیر است که می تواند نقش اساسی را در تحقق برنامه های اقتصادی و اجتماعی کشور ها ایفاء نماید.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱- World population growth is expected to nearly stop-1 b Pew ... worlds-population... ‹ 2019/06/17 ‹ fact-tank ‹ https://www.pewresearch.org

۲-دائرۀ الموارد البشریة www.hr.rak.ae

جمیع الحقوق محفوظة لدائرة الموارد البشریة . رأس الخیمة. الموقع الالکترونی بإدارة دائرة الموارد البشریة رأس الخیمة. آخر تحدیث للموقع:۹/۰۳/۲۰۲۰ 

۳-نظرسنجی درباره اعتراضات: اکثریت ناراضی اند، ۳۱ درصد اصلاح را ... ‹ iran-42984288 persian ‹ https://www.bbc.com

۱۳۹۶ سلواغه ۱۸



## ګرانو هېوادوالو!

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زمونږ د ملی ارزښتونو له ډلې څخه دي

### اطلاعیۀ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و در این زمینه تمام فعالیتها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی را برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۵۳، حوت ۱۳۹۸


**افغانۍ د هېواد دودیزې پیسې او زموږ د ملي هویت نښه ده او په ټولو افغانانو پورې تړاو لري. راځئ چې یو بل سره لاس په لاس د هغه په کارونه او خوندي ساتنه کې ډېره پاملرنه وکړو څو د افغانیو بانکنوټونو د ژر زړیدو مخه ونیول شي.**

